## د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه:

د انګرېز عسکر د شاه شجاع سره یو ځای افغانستان ته را ننوتل. افغانان چي پدې و پوهېدل چي افغانستان انګرېزانو نیولی دئ نو ملي پاڅون یې و کړاو په غزا یې پیل وکړ. په کابل کي د غازي عبدالله خان اڅکزي اونایب امین الله خان لوګري په مشرۍ د انګرېزانو په مخالفت جهاد پیل سو.



مکناټن

د دوی په قومنده د ۱۸۴۱م کال د نوومبر په دوهمه نېټه عمومي پاڅون وسو. افغانان په تش لاس پر انګرېزانو ورغلل، پدغه اوله ورځ یې د انګرېز نماینده برنس و واژه. د ډیسمبر پر ۲۳ نېټه یې مکناټن و واژه.

شاه شجاع چي د خپل هیواد سره یې خیانت کړئ وو د ۱۸۴۳م کال د اپریل پر ۳ نېټه و وژل سو. او څرنګه چي د دغه کال په ژمي کي د انګرېزانو عسکر د کابل د لاري څخه جلال اباد ته تلل ټوله د غازیانو له خوا و وژل سوه.



وزیر محمد اکبر خان

انګرېزانو پدې جنګ کي ډېر تاوانونه و لیدل، ۳۰ زره نفره یې و وژل سوه او ۲۱۰ میلیونه هندی روپۍ یې مصرف سوې. په دغه جنګ کي چي د انګرېزانو څوک افغانستان ته راغلي وه ببله یوه نفر ډاکتر برېډن څخه نور څوک ژوندي پاته نه سول. د شاه شجاه تر وژلو او د انګرېزانو تر ماتولو وروسته خلکو امیر دوست محمد خان راووست او د خپل مجاهد زوی وزیر اکبر خان په مرسته یې د کابل پر تخت کښېناوه.



ډاکتر برېډن چي د افغان او انګرېز په لومړۍ جګړه کي و تښتېد